د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــــاد، حـــــج او اوقافـــــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

۷/ جمادي الثاني/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۷/ قوس/۱۴۰۴هـ، ش

# د ځوانانو او تنکیو ځوانانو سالمه روزنه او د بې لاریو څخه یې مخنیوی د هر کور د سرپرست ، علماوو او د اسلامي حکومت ګډ مسئولیت دی.

**بسم الله الرحمن الرحیم**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، اللهم صلِّ على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:(نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى * وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَن نَّدْعُوَ مِن دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا ) الكهف: (١٤)

**درنو او عزتمنو حاضرینو او اوریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

په ټولنه کې داسې مرض نشته چې اسلامي شریعت ورته توجه نه ده کړې ، ځکه چې د اسلام سپیڅلې دین یو جامع ، کامل او په هر زمان او مکان کې د تطبیق وړ دین دی.

داسلام مقدس دین د انسان له وړوکوالي څخه په عالي اخلاقو او غوره آدابو روزي او کله چې انسان د ځوانۍ مرحلې ته ورسیږي ، نو اسلام د انسان دې مرحلې ته خاصه توجه او پاملرنه کړې ده.

اسلام د اولادونو او ځوانانو او تنکیو ځوانانو په سالمه روزنه زیات تأکید کړی دی ځکه چې ټولنه د ځوانانو او تنکیو ځوانانو څخه جوړیږي او اسلام غواړي چې اسلامي ټولنه د ژوند په هره برخه کې ښوه نمونوي ټولنه وي او ټول هغه کارونه یې حرام ګرځولي دي چې د ټولنه برباده وي لکه ښکاره او پټ د فشحاء کارونه، د شرابو څښل او د مخدره او نشه یې توکو استعمال، هغه کارونه چې د انساني کرامت له منځه وړي او د ټولنې د نا امني سبب ګرځي، لکه شرک او بت پرستي، قمار کول، غلا کول، درواغ ویل، په چا تهمت او بهتان لګول او داسې نور.

په موجوده وخت کې داسې اخلاقي مفاسد رامنځ ته شوي دي چې ځوانان او د تنکیو ځوانانو ژوند تهدیدوي او ځوانان او تنکي ځوانان مخکې له دې چې د ټولنې برخه وګرځي د بیلا بیلو اخلاقي مفاسدو تر ښکار لاندې راځي.

د موجوده ټولنې نشراتي، صوتي او تصويري برخه غير اخلاقي سريالونه خپروي،د ښځو لوڅ او نيمه لوڅ انځورونه فلمونه نشر ته سپاري.په کور او بازار کې ، په دوکان او سرک باندې ، په دفتر او ټولګي کې د نارينه وو او ښځو ترمنځ مختلط ژوند د مساوات او پرمختګ په توګه نړۍ ته وړاندې کوي، اسلام خو پريږده چې دغه کارونه په يهودي او مسيحيت کې عار او ننګ ګڼل کيږي، چې دا ټول د مسلمانو ځوانانو او تنکيو ځوانانو لپاره لوی خطر دی ځکه دوی بې لارې کوي او دوی د ګمراهۍ په لور سوقوي.

لله الحمد ددغسې مهلکو او ګمراه کوونکو کړنو څخه د نجات لپاره د اسلام مقدس دين مور او پلارته، علماوو ته دنده سپارلې ده ترڅو خپل ځوانان او تنکيو ځوانانو سالمه روزنه وکړي او ځوانان او تنکي ځوانان مو د عقيدوي او اخلاقي مفاسدو مصئون پاتې شي او د هغو ناکاره اخلاقو څخه ځانونه وساتي چې د سليم  فطرت او الهي قوانينو په خلاف دي.

د اسلام مقدس دين د ځوانانو او تنکيو ځوانانو سرپرستانو ته امر کړی دی چې د خپلو ځوانانو او تنکيو ځوانانو سالمه روزنه وکړي او دا يو ډول امتحان دی او د ځوانانو او تنکيو ځوانانو د ازميښت ګړۍ ده .

اولاد ځوانان او تنکي ځوانان په مور او پلار دوه ډوله حقوق لري، چې يو يې مادي حقوق دي، لکه  خوراک ، څښاک ، جامې او د پښو لپاره پيزار...او بل ډول يې روحي او معنوي حقوق دي ، چې هغه د سالمې روزنې څخه عبارت دی.

ځوانان او تنکي ځوانان لکه څرنګه چې مادي او مالي حقوقو ته ضرورت لري، په همدغه اندازه روحي روزنې ته ضرورت لري، ځکه چې ټولنه د همدغو ځوانانو او تنکيو ځوانانو څخه تشکيليږي ،که چيرې مونږ ټولنې ته د غوره روزنې والا ځوانان او د ښو اخلاقو خاوندان وړاندې کړو، نو په آينده کې به سالمه ټولنه ولرو او که چيرې مونږ ټولنې ته داسې ځوانان او تنکي ځوانان وړاندې کړو،  چې د هغوی سالمه روزنه نه وي شوي، نو مونږ به سالمه ټولنه ونلرو او مونږ به د ټولنې سره مرسته نه وي کړې ؛ ځکه چې ځوانان او تنکی ځوانان نسل د پياوړې او غښتلې ټولنې لومړنۍ خښتې دي ، که چيرې د تهداب خښته کږه وي ، نو ښکاره خبره ده چې ټول ديوال به کوږ وي او که چيرې مونږ ټولنې ته په سالمې روزنې روزل شوي  او په غورو اخلاقو سمبال ځوانان وړاندې کړو، نو د غوره ټولنې په رامنځ ته کولو کې به مرسته کړې وي او مونږ به هوسا او سوکاله ټولنه ولرو.

همدا رنګه دولت او نظام دنده لري چې د ځوانانو او تنکيو ځوانانو د سالمې روزنې لپاره مختلف تربيتي پروګرامونه پياده کړي.. دولت مکلف دی چې د ځوانانو او تنکيو ځوانانو د سالمې روزنې لپاره مدرسې او ښوونځي جوړ کړي ، استادان او مربيان استخدام کړي. له ټولنې څخه ناوړه او ګمراه کوونکي وسائل لري کړي، لکه له بازارونو څخه د ډُول او سرنا، ساز او سرود وسائلو لرې کول، د فحشاوو مرکزونه بندول،  د ناوړه تبليغاتو او نيمه لوڅو عکسونو او سريالونو خپرونکې رسنۍ بندول او يا سانسورول، په بازارونو کې د سړو او ښځو ترمنځ د اختلاط مخه نيول، خو خبره په دې ځای کې نه خلاصه کيږي ، بلکې د ځوانانو او تنکيو ځوانانو زيات وخت د مور او پلار سره تيريږي او د مور غيږه د ځوانانو د سالمې روزنې  لومړنۍ زانګو ده . د ځوانانو او تنکيو ځوانانو سالمه روزنه يواځې فضيلت نه دی ، بلکې دا يو حق دی او يوه شرعي دنده ده. لکه چې امام غزالي رحمه الله فرمايلي دي:( پوهه شه چې د کوچنيانو تربيه کول د خورا مهمو او ضروري کارونو څخه ده او ماشومان د خپل مور او پلار سره امانت دي؛ د ماشوم پاک زړه ډير سپيڅلی او ساده جوهر دی، د هر ډول نقش او انځور څخه خالي دی او د هر ډول نقش لپاره چمتو دی او هرې خوا ته يې چې څوک ګرځوي او اړوي، هغې خواته په اسانۍ سره اوړي، که چيرې په نيکيو عادت کړل شو او نيکي ورته ور وښودل شوه، په نيکۍ را لوئيږي او په دنيا او آخرت کې به نيکبخته وي او په دې نيکبختۍ کې به ورسره مور او پلار، هر معلم او مربي شريک وي او که چيرې په شر باندې عادت کړل شـو او يا دځارويو په څير ورته هيڅ ډول توجه ونه شـوه، بد بخته به شي او هلاک به شي او ګناه به يې د کور د سرپرست په غاړه وي). إحياء علوم الدين (٣/ ٧٢)

د کور په سرپرست باندې د ځوانانو او تنکیو ځوانانو سالمه روزنه یو امانت دی ددوی په غاړه باندې او په دې امانت کې خیانت ډېر زیات خطرناک دي. د ځوانانو او تنکیو ځوانانو سالمه روزنه لکه چې د کور د سرپرست وظیفه ده، په کورنۍ دا فرض دي چې د ځوانانو او تنکیو ځوانانو په زړونو کې ددین سره او ددین له شعائرو مینه او محبت واچوي او خپل ځوانان او تنکي ځوانان په عبادت باندې عادت کړي او دقرآن کریم سره علاقه ساتل او د الله تعالی د ذکر سره ژوند تیرول ورته د ژوند مهم او ارزښتناکه لحظې معرفي کړي او په دې کارونو یې عادت کړي.

او په غوره او عالی اخلاقو کې یې وروزي او دانحراف او گمراهۍ له وسائلو څخه یې وساتي او داسې روزنه ورکړي،چې ددوی زړونه د مسجد سره تړلي وي. په موجوده وخت کې په ځوانانو او تنکیو ځوانانو کې د دین په زده کړه کې او په دین باندې د عمل کولو په برخه کې یو څه سستي رامنځ ته شوې ده او د کور سرپرست،علماء کرام او دولت په شریکه باید کار وکړي چې ځوانانو او تنکیو ځوانانو ته نجات ورکړي او ورسره په دې برخه کې مرسته وکړي.

## د ځوانانو او تنکیو ځوانانو سالمه روزنه او د بې لاریو څخه یې مخنیوی د هر کور د سرپرست مسئولیت دی.

د ځوانانو او تنکیو ځوانانو د سالمې روزنې او د ځوانانو د بې لارې توب څخه د مخنیوي لارې زیاتې دي ،چې ځینې یې په لاندې توگه دي:

### ۱-د ځوانانو او تنکیو ځوانانو ایماني روزنه او د بې دینۍ څخه یې ساتل.

دا د کور د سرپرست ایماني وظیفه ده چې خپل ځوانان او تنکي ځوانان د توحید په عقیده وروزي او د هغوی په زړونو کې دالله تعالی چې زمونږ خالق، مالک او رازق ورته ور وپيژني او اقلاً د علامه مفتي کفایت الله د تعلیم الاسلام کتاب د عقیدې برخه ورته ور زده کړي.

او دا ورته زده کړي چې الله جل جلاله چې اسمانونه،ستوري اوځمکه یې پیدا کړې ده،مونږ او تاسو یې پیدا کړي یو،یواځې همدغه الله د بندگۍ او عبادت مستحق دی او دالله تعالی څخه د نورو مخلوقاتو عبادت شرک دی چې نه بښونکې گناه ده.

د کور سرپرست د خپلو ځوانانو په زړونو کې د الله تعالی سره مینه را زرغون کړي او په دې پوهه کړي چې الله تعالی زمونږ د ټولو اعمالو او افعالو څخه خبر دار دی ، مونږ ویني او زمونږ د لویو او وړو گناهونو څخه خبردار دی.

که چیرې مونږ ښه کارونه کوو، مونږ ته الله تعالی اجر راکوي او که چیرې مونږ بد کارونه کوو ، نو مونږ ته سزا اوجزا راکوي ، چې د الله تعالی سزاگانې څه دنیوي دي او څه یې اخروي دي.

دا هغه روزنه ده چې حضرت لقمان علیه السلام ورباندې خپل زوی روزلې ؤ او داسې یې ورته وفرمایل:( وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيم).لقمان:(۱۳)

ترجمه:او یاد کړه (ای محمده! هغه وخت) چې وویل لقمان زوی خپل ته حال دا چې ده پند ورکاوه ده ته: ای بچوړیه زما شریک مه گرځوه له الله سره ښشکه چې شرک خامخا ظلم دی ډېر لوی.

او بیا یې ورته داسې وفرمایل، چې الله تعالی د ځمکو او اسمانونو په پټو او ښکاره وو باندې خبر دار دی: (يا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ ).لقمان:(۱۶)

ترجمه: ای زویه گوټیه زما! بېشکه دا (د بدۍ او نېکۍ خصلت) که کوم شی وي په قدر د دانې له اوري څخه پس وی دا دانه په کومې تیږې (ګټې) کې یا وی په اسمانونو کې یا په ځمکې کې چې هیڅوک پرې خبر نه وی نو رابه یې وړي الله حساب کتاب ته بېشکه الله ښه باریک لیدونکی ښه خبر دار دی.

لقمان علیه السلام بیا خپل زوی ته ددې امر وکړ ، هغه رب چې زمونږ خالق او مالک دی او په هرڅه عالم دی ،نو د هغه عبادت کوه او د الله تعالی د رضا حاصلولو لپاره په نیکیو خلکو ته امر کوه او که چیرې په دې کارونو کې درته کومه پریشاني یا تکلیف ورسیده په هغې باندې صبر کوه. (يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُور ).لقمان:(۱۷)

ترجمه: ای زوی ګوټیه زما! قائموه سم ودروه سره له ټولو حقوقو لمونځ او امر کوه خلقو ته په نېکۍ او منع کوه خلق له بدۍ نه. او صبر کوه په هغې سختۍ چې رسیږي تا ته بالخاصه په امر او نهي کې بېشکه دغه مذکوره نصائح له مهمو مقصودي کارونو څخه دي.

علامه ابن عاشور رح وایې ، چې لومړی لقمان علیه السلام خپل زوی ته د عقیدې اصول بیان کړل او بیا یې ورته په اعمالو کې اصولي کارونه بیان کړل؛ چې هغه لمونځ کول دي او الله تعالی لورې ته توجه ، عاجزي، خضوع او خشوع ، تسبیح او دعاء ده، ځکه چې لمونځ د نورو نیکو اعمالو ستنه ده، ځکه چې لمونځ د الله تعالی په طاعت باندې اعتراف کول دی او د نیکو او صالحو اعمالو د هدایت غوښتل دي.

لقمان علیه السلام خپل زوی ته یواځې په عبادت او په نیکیو امر کولو هدایت ونه کړ، بلکې هغه ته یې وویل چې د بدو کارونو مخنیوی کوه او د بدو کارونو په مخنیوي کې به ته خامخا د مخالفتونو سره مخ کیږي، که چیرې په دې لاره کې درته کوم تکلیف در پیښ شو، نو بیا صبر کوه ځکه صبر د انبیاوو علیهم السلام خوی او خصلت دی.التحریر والتنویر (۱۱/ ۲۰٤)

ددې څخه وروسته لقمان علیه السلام خپل زوی ته وویل، چې ځان د تکبر او عُجب څخه وساته ، ځکه چې تکبر او لویې کول هغه خویونه دي ، چې الله تعالی یې نه خوښوي . ( وَلا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلا تَمْشِ فِي الأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ).لقمان:(۱۸)

ترجمه: او مه ګرځوه مخ خپل خلقو ته له ډېره کبره بلکه ګوره دوی ته په تواضع سره او مه کوه تګ په ځمکه کې په ناز او نخرو بېشکه الله محبت نه کوي هر کبر کوونکي فخر کوونکي سره په خلقو

لقمان علیه السـلام د خپل زوی په سـالمه روزنه کې او د بې لارې توب څخه د مخنیوي په اړه وفرمایل چې ته به په ټولنه کې اوسیږې او باید چې ټولنیز آدابو ته هم توجه وکړې او خلکو ته په تحقیره سترګه مه ګوره او په خلکو ځان لوی مه ګڼه ، بلکې ځان داسې وګڼه چې ته هم ددوی له جملې څخه یې.
او د بدو او ناکاره کارونو څخه ځان وساته او د خلکو سره نیکه او حسنه روابط وساته او د خلکو سره خوږې او خوندورې خبرې کوه او په لاره کې په تکبر سره تلل مه کوه ؛ ځکه په لاره په تکبر او عُجب سره تلل د کبرجنو خلکو عادت دی.
او ورته یې وفرمایل:( وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ إِنَّ أَنكَرَ الأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِير ).لقمان:(۱۹)
ترجمه: او میانه رو اوسـه! په تګ خپل کې یعنې مه ډېر ګړندی او مه ډېر ورو ځه او ورو کړه غږ خپل بېشکه چې ډېر بد د ټولو غږونو خامخا غږ د خرو دی

**۲-د ځوانانو او تنکیو ځوانانو سالمه روزنه او هغوی د بې لارې توب څخه ژغورل د مسلمان ایماني دنده ده.**

د ځوانانو او تنکیو ځوانانو د سالمې روزنې او د هغوی دبې لارې توب څخه مخنیوی د کور د سرپرست مسئولیت او ایماني وظیفه ده.

او الله تعالی د کور سرپرستانو ته امر کړی دی چې خپل ځان او خپل ځوانان او تنکي ځوانان د بې لارې توب څخه وساتئ او فرمایلي یې دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ). التحريم : (٦)
ژباړه **:د استدلال وجه:** مفسرین ددې آیت په تفسیر کې لاندې نظرونه لري:

قال مجاهد: اتقوا الله، وأوصوا أهليكم بتقوى الله.

امام مجاهد رح وایې: د الله تعالی څخه وویرېږئ او خپل اولادونو ته الله تعالی څخه د ویرې او تقوی وصیت وکړئ.

وقال قتادة: يأمرهم بطاعة الله، وينهاهم عن معصية الله، وأن يقومَ عليهم بأمر الله، ويأمرهم به ويساعدهم عليه، فإذا رأيت لله معصية، قَدعتهم عنها وزجرتهم عنها.

ژباړه: امام قتاده رح وايې:الله تعالی دوی ته د الله په طاعت امر کوي او د الله تعالی له نافرمانی څخه منع کوي او په دې ورته امر کړی دی چې په خپل اهل باندې د الله تعالی په امر سره ولاړ اوسي او د الله تعالی په امر ورته امر وکړي او د الله تعالی په کارونو کې ورسره مرسته وکړي، او کله چې په دوی کې د الله تعالی د امر څخه نافرماني ووینې ، نو د هغې څخه به یې اړوي او د هغې څخه به یې په رټلو سره منع کوي.
وهكذا قال الضحاك ومقاتل: حق على المسلم أن يعلم أهله من قرابته، وإمائه وعبيده، ما فرض الله عليهم، وما نهاهم الله عنه. تفسير ابن كثير / دار طيبة (٨/ ١٦٧)
ژباړه: امام ضحاک او مقاتل وایې: لازم دي په مسلمان باندې چې ور وښايې خپل نږدې اهل ته او خپلو وينځو ته او خپلو غلامانو ته هغه څه چې الله تعالی پر دوی فرض کړي او هغه څه چې الله تعالی دوی له هغې څخه منع کړي دی.
حضرت علی رضي الله عنه د دې آيت په تفسير کې وايې:( علموا أنفسكم وأهليكم الخير وأدبوهم). الدر المنثور (٨/ ٢٢٥)
ترجمه: خپل ځان ته او خپل اهل ته مو خيرزده کړئ او ادب وورته زده کړئ.
په يو بل آيت کې الله تعالی فرمايلي دي:( وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا).طه: (١٣٢)
ترجمه: او خپل اهل ته په لمانځه امر وکړه او خپله هم په لمانځه ثابت اوسه.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، چې د کور سرپرستان د لکه د چوپان په څیر پر ځوانانو او تنکیو ځوانانو د څار او نظارت دنده په غاړه لري . نبي عليه السلام فرمايلي دي:« كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا ». صحيح البخاري ت (٢/ ٣٠٥)
ژباړه : ستاسو څخه هر یو څارونکی دی او ټول تاسې مسئول یاستې دخپل رعیت په اړه، د ټولنې امام او پیشوا د (خپل رعیت) څارونکی دی او د خپل رعیت مسئول دی ، او سړی د خپل اهل څارونکی دی او دی مسئول دی دخپل رعیت په اړه ، ښځه د میره په کور کې څارونکې ده او ښځه مسئوله ده د خپل رعیت په اړه.

په یو بل حدیث شریف ک راځي : عن مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ قال سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« مَا مِنْ عَبْدٍ اسْتَرْعَاهُ اللَّهُ رَعِيَّةً فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ إِلَّا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ» صحيح البخاري ت (١٨/ ٦٤)

دژباړه: د معقل بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: هیڅ داسې بنده نشته چې الله تعالی هغه لره دیو قوم مشري ورکړي او بیا هغه شخص د هغه قوم حفاظت ونکړي(له گناهونو څخه) په نصیحت سره ، مگر داچې پیدا به نکړي بوی د جنت.

تر ټولو غوره او الله تعالی ته نږدې سرپرستي د خپلو ځوانانو او تنکیو ځوانانو سرپرستي ده . په دې حدیث کې دومره لوی وعید پروت دی چې څوک خپل رعیت له گناهونو څخه ونه ساتي د جنت بوی به هم بیا نه مومي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللهَ سَائِلٌ كُلَّ رَاعٍ عَمَّا اسْتَرْعَاهُ، أَحَفِظَ ذَلِكَ أَمْ ضَيَّعَ؟ حَتَّى يُسْأَلَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ».السنن الكبرى للنسائي(٨ /٢٦٧)

ژباړه: د انس رضي عنه څخه روایت دی ، هغه د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه الله تعالی پوښتنه کوونکی دی د هر یو چوپان (مشر) څخه په باره د هغه څه کې چې الله تعالی هغوی دده رعیت گرځولی دی چې آیا ده د هغه رعیت حفاظت کړی دی او که هغه یې ضائع کړي دي، تر دې پورې چې پوښتنه به وشي د سړي څخه د هغه د کور د اهل په باره کې.( چې آیا ده د کور د اعضاوو د گناهونو څخه ساتلي دي او که هغوی یې ضائع کړي دي او هیڅ توجه یې ورته نه ده کړې).

رسول الله صلی الله علیه وسلم به ځوانانو او تنکیو ځوانانو روزنې ته زیاته پاملرنه کوله. په یو حدیث شریف کې راځي: عن أَبي حفْصٍ عُمَر بن أَبي سلَمةَ عبدِ اللَّهِ بنِ عبدِ الأَسد: ربيبِ رَسُول اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم قَالَ: كُنْتُ غُلاماً في حجْرِرسول اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم، وكَانَتْ يَدِي تَطِيشُ في الصَّحْفَةِ، فَقَالَ لي رسولُ اللَّهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم:«يَا غُلامُ سمِّ اللَّهَ تَعَالَى، وَكُلْ بِيمِينِكَ، وكُل ممَّا يليكَ» فَما زَالَتْ تِلْكَ طِعْمتي بعْدُ. متفقٌ عَلَيهِ.

ژباړه: د عمر بن ابو سلمه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تربیت یافته څخه روایت دی ، هغه وایې چې زه ماشوم وم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سرپرستی کې وم، او زما لاس گرځیده په کاسه کې(د خوراک پر وخت به مې په ټوله کاسه کې لاس گرځولو په مړی پسې) ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای هلکه ! بسم الله وایه (د ډوډۍ د خوړلو پروخت) او په ښي لاس خوراک کوه او هغه څه خوره چې تاته نږدې دي. بیا تل زما د خوراک خوړلو طریقه وه.

که چیرې مونږ او تاسې د خپلو سلف صالحینو تاریخ ته وگورو ، نو په هغوی کې اکثره یې د الله تعالی څخه ویریدونکي ؤ او په دین پوهه او په هغوی کې لوی لوی اولیاء تیر شوي دي ، ددې راز په دې کې دی چې هغوی به خپلو ځوانانو او تنکیو ځوانانو تربیې ته زیاته توجه کوله او د هغوی په سالمه روزنه کې به یې غفلت او بې پرواهي نه کوله. د حضرت قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي:(مُرُوهُمْ بِطَاعَةِ اللَّهِ وَانْهَوْهُمْ عَنْ مَعْصِيَته) فتح الباري لابن حجر(١٤ /٣٨)

ژباړه: خپل اهل اود کور ځوانان او پیغلو ته د الله په طاعت امر وکړه او د گناهونو څخه یې منع کړه.

عبد الله بن عمر رضي الله عنه به ویل:(أدب ابنك فإنك مسؤول عن ولدك ماذا علمته ،وهو مسؤول عن برك وطواعيته لك). شرح السنة ـ للإمام البغوى متنا وشرحا (٢ /٤٠٨)

ژباړه: ادب زده کړه خپل زوی ته ، بیشکه ته مسئول یې د خپل بچي په هکله چې څه دې ورته وربښوولي دي او ستا زوی مسئول دی ستاسره د نیکۍ په هکله او تاته د فرمان منلو په هکله.

د محمد بن سيرين رحمه الله څخه روايت دی هغه وايي(كانوا يقولون أكرم ولدك وأحسن أدبه). جامع بيان العلم وفضله(١ /٨٤)

ژباړه: مخکنیو خلکو (صحابه کرامو او تابعینو ) به ویل: د خپل بچي عزت وکړه او نیک ادب ورته ور وښایه.

امام شافعي رحمه الله به ويل :(على الآباء والأمهات أن يؤدبوا أولادهم ويعلموهم الطهارة والصلاة ، ويضربوهم على ذلك إذا عقلوا. شرح السنة ـ للإمام البغوى متنا وشرحا (٢/ ٤٠٧)

ژباړه: پر پلرونو او میندو لازم دي چې آدب ور وښایې خپلو اولادونو ته او ور وښایې ورته اودس او لمونځ او چې کله پوهه شي نو دوی په لمانځه (په پریښودلو) باندې ووهي.

ســلفو علماوو بـه خپلو ځوانـانو او تنکیو ځوانـانو دومره زیـاته روزنه ورکوله ؛ آن چې د درنده حیواناتو په اړه به یې هم ورته سپارښتنې کولې. امام فُضيل بن عياض رحمه الله به ويل:(والله ما يحل لك أن تؤذي كلبًا أو خنزيرًا بغير حق، فكيف تؤذي مسلمًا؟) سيرأعلام النبلاء (١١/ ٤٨٧).

ژباړه:قسم په الله تعالی چې جائز نه دي چې ته تکلیف ورسوې سپي ته او یا خنزیر ته په ناحقه سره ، نو څرنګه به ته تکلیف ورسوې مسلمان ته؟

پخوانیو ددین مشران او فقهاء کرام به د خپلو ځوانانو او تنکیو ځوانانو خبرو ته هم متوجه ؤ، ترڅو ددوی د خولې څخه بې ادبه خبره ونه وزي او که چیرې د ځوانانو او تنکیو ځوانانو د خولو څخه به داسې خبره ووتله چې په هغې کې به دیني ملاحظه وه، نو هغه به یې تصحیح کوله او خپل ځوانان او تنکي ځوانان به یې ورته متوجه کول.

امام تاج الدين سُبُكي چې يو مشـهور عالم او فقيه تيرشوې دی هغه وايي: (كنت جالسًا بدهليز دارنا، فأقبل كلب، فقلتُ: اخسأ كلبَ بنَ كلبٍ ، فزجرني الوالدُ من داخل البيت، فقلت: أليس هو كلب بن كلب؟ قال: شرط الجواز عدمُ قصد التحقير ). الرفع والتكميل، للكنوي ص: (٤٦).

ژباړه: زه یوه ورځ د خپل کور په دهلیز کې ناست وم ، نو سپی راغی، نو ماورته وویل: کورئ شه د سپي زویه! زه ورټلم خپل پلار د کور دداخل څخه (تاج الدين سُبُكي چې لوی مجتهد ؤ) ، نو ما ورته وویل: آیا هغه د سپي زوی نه دی؟ هغه وویل ددې خبرې جواز هله شته چې ستا قصد تحقیر نه وي.

یعنې تا سپی تحقیراً ورټلو او د تحقیر په توګه د سپي رټل هم تاته په کار نه دي.

امام نووي رحمه الله په خپل مشهور کتاب رياض الصالحين کې مستقل باب قائم کړی دی:(باب وجوب أمره أهله وأولاده المميزين وســائر من في رعيتـه بطـاعـة الله تعـالى، ونهيهم عن المخالفة وتأديبهم ومنعهم من ارتكاب منهي عنه). رياض الصالحين ص: ٣٧٣)

ژباړه:دا باب دی په وجوب د امر کولو د کور دسرپرست خپل اهل ته او خپلو تمیزخاوندانو اولادونو ته او ټولو هغو کسانو ته چې دده په سرپرستۍ کې دي په طاعت دالله تعالی او منع کول ددوې دي د الله تعالی د مخالفت څخه او ادب ورکول هغوی ته او منع کول د هغوی د منع شوو کارونو د ارتکاب څخه.

امام ابن عبدالبر حافظ المغرب وايي: (فواجب على كل مســلم أن يعلم أهله ما بهم الحاجة إليه من أمر دينهم ويأمرهم به وواجب عليه أن ينهاهم عن كل ما لا يحل لهم ويوقفهم عليه ويمنعهم منه ويعلمهم ذلك كله). التمهيد (١٧ /٢٨٣)

**٣-ځوانان او تنکي ځوانانو لمانځه ته پاځول او په لمانځه ورته امر کول او په عبادت بېې روزل.**

ځوانـان او تنکي ځوانان بايد په عبادت کولو اموخته کړل شي او په لمانځه ورته امر کول په کار دي او د قرآن کريم تلاوت ته وهڅول شي. په حديث شريف کې راځي: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا، وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرٍ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ». سنن أبي داود (١ /١٣٣)

ژباړه: امر وکړې خپلو تنکيو ځوانانو ته چې کله دوی اووه کلن وي، او ووهې دوی (تأديباً) په ترک د لمانځه باندې چې کله دوی لس کلن وي او جدا کړئ ددوی ځای د پريوتو (چې کله لس کلن وي)

د ځوانانو او تنکيو په عبادت باندې ځوانانو روزل ډير ضروري دي ،کله چې دوی د تمييز عمر ته ورسيږي او د لمانځه په ترک کې بايد چشم پوشي ونشي .

امـام نووي رح وايي:(وفي هـذا الحـديـث تمرين الصـــبيان على الطاعات وتعويدهم العبادات ولكنهم ليســوا مكلفين) شرح النووي(٨ /١٤)

ژباړه: په دې حديث کې د ماشومانو تمرينول په طاعت باندې او عادت کول د ماشومانو په عبادت باندې( حکم پروت دی) ، خو دوی مکلف نه دی ( په اداء کولو ددې).

دځوانانو او تنکيو ځوانانو لپاره په کور کې يوه مکتبه جوړه کړی شي چې په هغې کې د کتابونو په لوستلو مشغوله وي او قرآن کريم په کې زده کړي ، د نبي عليه السلام احاديث په کې زده کړي او د نيکانو او صالحينو حکايات او نصيحتونه په کې زده کړي.

ځوانانو او تنکيو ځوانانو ته بايد په حياء روزنه ورکړل شي؛ ځکه چې حياء د ايمان برخه ده او حياء سراسري خير دی.

او په چا کې چې حياء نه وي ،بيا هغه ، هغه څه کوي چې خوښه يې وي. إحياء علوم الدين (٣ /٧٣)

همدار راز ځوانان او تنکی ځوانانو ته بايد د مور او پلار طاعت ور زده کړی شي او د استاد احترام او د عالم احترام او د مشرانو او سپين ږيرو احترام او درناوی ورته زده کړل شي او په ځوانانو او تنکيو ځوانانو لازم دي چې د مشرانو ، استادانو ،علماوو په مخ کې تلل ، د هغوی په حضور کې بې ځايه خبرې ، د هغوی په مخ کې لوبې کول پريږدي.

**٤-قدوه حسنه يا غوره پيشوا:** قدوه حسنه په ځوانانو او تنکيو ځوانانو په روزنه کې ډير مهم رول لوبوي او زيات تأثير لري؛ ځکه چې انسانان فطرتاً هغه شخص خوښوي چې د هغه خبرې، تعامل، حرکات ، سکنات او تصرفات نيک او صالح وي او بيا پر دغو خلکو باور هم کوي او خبرې او لارښوونې يې مني او ځوانان او تنکي ځوانان دداسې خلکو کړو وړو پيروي کوي او داسې خلک خپل پيش روا گڼي.غوره پيشوايان هغه خلک دي چې د هغوی وينا د عمل سره برابره وي او نورو ته چې په څه امر کوي ، هغه په ځان لومړی عملي کوي او داسې خلکو ته بيا د ټولنې خلک مختلف نيک القاب ورکوي او په فيصلو رضامندي ښکاره کوي.

لکه چې په یو حدیث شریف کې راځي، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟» ، قَالُوا: بَلَى، يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا، ذُكِرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ» سنن ابن ماجه) ۲ /۱۳۷۹(

ژباړه: اسماء بنت یزید رضي الله عنها وايي چې ما د رسو الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: آیا زه تاسې خبر نکړم په تاسو کې پر غوره خلکو باندې؟ صحابه کرامو رضي الله عنهم وویل ؛ هو! خبر مو کړه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم. بیا نبي علیه السلام وفرمایل: په تاسو کې غوره خلک هغه کسان دي چې کله ولیدل شي، الله تعالی یاد کړل شي.

یعنې ددوی لیدل د الله تعالی د یادولو سبب شي یا دا چې دوی ولیدل شي، خلکو ته د الله تعالی عبادت ور یاد شي خو که چیرې څوک داسې وي چې نورو ته په نیکیو امر کوي او خپله نیکي نه کوي یا نورو له بدیو منع کوي او په خپله بدي کوي ، داسې خلکو  څخه ځوانان او تنیکي ځوانان هیڅ نه زده کوي او نه د داسې خلکو پیروي کوي.

نو د چا مور او پلار چې د ځوانانو لپاره قدوه حسنه وي، د هغوی زامن هم د مور او پلار پیروي کوي او صالحان او عابدان به گرځي.او که چیرې دچا مور او پلار صالحان نه وي یا یې د کورنی غړي صالحان نه وي ، بیا ځوانان او تنکي ځوانان هم بې لارې کیږي. د مور او یا پلار فاسد والی او بې لارې توب د اولادونو په انحراف او بې لارې کیدو کې فوق العاده رول لري؛ لکه چې په حدیث شریف کې راځي: عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ وَيُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ). صحيح البخاري ت (۳٤۱/ ۳)

ترجمه: د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : هیڅ ماشوم نشته مگر هغه پیدا کیږي په اسلامي فطرت سره نو بیا مور او پلار د  دی یهودي کوي یا یې نصراني کوي یا یې مجوسي کوي لکه څرنگه چې زیږوي حیوان بچي لره روغ رمټ آیا تاسو په کې کوم نقص وینئ؟

**۵- ځوانان او تنکي ځوانان په نعمتونو او رفاهیت باندې باید  عادت نشي.** د کور سرپرستانو ته په کار دي، چې ځوانان اوتنکي ځوانان د تَنَعُّم او رفاهیت ژوند څخه وساتي.

ځکه کوم تنکي ځوانان چې په زیاتو نعمتونو او هوسا ژوند کې را لوی شي، هغوی بیا هر وخت د تنعُّم او رفاهیت ژوند غواړي او که چیرې ورته د نعمتونو ډک ژوند نه مساعدیږي هغوی بیا هر کار کوي او هر جرم ته لاس اچوي.

همداراز که چیرې داسې ځوانان د سختیو سره مخ شي، نو د سختیو تیرولو او زغملو توان نلري.نو د کور سرپرستان باید ځوانان او تنکي ځوانان د تنعُّم او رفاهیت ژوند باندې عادت نکړي.

یو عالم وايي پلار تل کوښښ کوي چې خپل بچي د دنیا له اور څخه وساتي ، خو که چیرې پلار اولادونه د آخرت له اور څخه وساتي دا به ورته بهتره وي ددینه چې ددنیا د اور څخه یې وساتي. د آخرت د اور څخه په دې ساتل کیږي چې ځوانانو او تنکي ځوانانو ته ادب ور وښايي او غوره اخلاق ورته ور وښايي او په نعمتونو یې عادت نکړي، د زینت او رفاهیت څخه یي لرې وساتي، ځکه ټول عمر به د زینت او رفاهیت په طلب کې تیر کړي او هلاک به شي. التربية الإسلامية أصولها وتطورها في البلاد العربية (ص: ۳٦۳)

**٦-ځوانان او تنکي ځوانان له بې لارې ملګرو څخه ساتل:** د ځوانانو د بې لارې توب مهم عامل بې لارې او ناوړه ملګري دي.

بد ملګری انسان بدی او جهنم ته کش کوي . په حديث شريف کې د بد عمله ملګري مثال داسې بيان شوی دی: ( عن أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم-مَثَلُ جَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ، كَحَامِلِ الْمِسْكِ، وَنَافِخِ الْكِيرِ؛ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً). متفق عليه

ترجمه : ابوموسى اشعري رضى الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي، چې نبي عليه السلام وفرمايل: د نيک او بد ملګرِي مثال لکه د مشکو د خرڅوونکي او اهنګر په څير دي، دمشکو خرڅوونکی به يا تاته مشک درکړي يا به يې ورڅخه ته مشک واخلی اوکه يې وانخلی دهغه له خوا به درته خوشبوی در ورسيږي او اهنګر يا به دی جامې در وسيزي او يا به ترې بد بويي ترې و مومې.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَن أَبِي هُرَيْرَةَ عَن النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« قَالَ الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلْ». مسند أحمد بن حنبل-ن (٢ /٣٣٤)

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: انسان د ملګري په دين باندې وي نو ستاسو څخه دې يوکس فکر وکړي چې د چا سره ملګرتيا کوي.

په يو شعر کې راځي: عن المرء لا تسأل وسل عن قرينه ... فكل قرين بالمقارن يقتدي

ترجمه: د انسان څخه پوښتنه مه کوه بلکې پوښتنه وکړه دده د ملګري په هلکه.... ځکه هر ملګری د خپل ملګري پسې اقتداء کوي.

**اقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**